AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال
۲۰۲۰/۰۹/۲۱

# په افغانستان کی د انسانی قاچاق د پیښو ډیربښت

انسان تښتونه یا انسانی قاچاق یوه داسی نړیواله معضله ده چی په ټوله نړی کی په کمه یا زیاته توګه وجود لری او د بیلو بیلو ضد بشری هدفونو د تر لاسه کولو د پاره ورنه کار اخستل کیږی لکه:

ــ د قاچاق شوی انسان د بدن د غړو خرڅلاو .

ــ د تښتول شوی انسان نه د مخدره او نورو غیری قانونی موادو د لیږد د پاره کار اخستل.

ــ د تښتول شوو نه د جنسی معاملی (فاحشګی) په برخه کی ګټه اوچتول.

ــ تښتول شوو نه د مغزو په پریمینځلو سره په تروریستی اعمالو کی کار احستنه.

ــ له کم عمره قاچاق شوو کسانو نه د جاسوسی په کارونو کی د کار اخستل.

ــ د قاچاق شوو نه د شاقه کارونو په سرته رسولو کی ګټه پورته کونه او داس په لسګونو د نورو ناوړو عملونو د کولو د پاره د هغوی استخدامول.

انسانی قاچاق د رواني زماني د غلامی یوه نوی بڼه ده چی د نن ورځی انسانی ټولنی یی د سخت خطرناک حالت سره مخ کړیدی. د نړی ټول دولتونه زیار کاږی چی مخنیوی وکړی خو له بده مرغه په بیلو هیوادونو کی هم د طبعی توفانونو لکه زلزلی، سیلاوونه، وچکالی، وبائی ناروغی، بحری توفانونه او نور.... او هم د بشری ناوړینونولکه جنګونه، تاړاکونه، نظامی حملی او د زور واکو د لاسه د جبری مهاجرتونه، ټول هغه عوامل دی چی د انسانی قاچاق د پاره لا ساحه پراخه کاندی او دولتونه یی د کنټرول نه عاجز پاتی شی.

د بشری ټولنو په منځ کی هغه ټولنی چی د زیاتو حوادثو سره مخ دی په زیاته اندازه د دی ضد انسانی عمل قربانی شویدی.

زمونږ افغانی ټولنه یوه له همدی ټولنو څخه ده چی د ځلوبښتو نه د زیاتو کالو په اوږدو کی د انسانی قاچاق د ناوړی پدیدی سره مخامخ ده او هره ورځ دا پیښې یکی تکراریږی. په وروستیو وختونو کی چی د جنګونو د شدت نه پرته د هیواد په ډیرو ولایاتو کی د سیلاوونو د راتلو له کبله د مرګ او ژوبلی نه غیر په سلونو زره کسانو خپل کورونه او شتمنی د لاسه ورکړیدی او د سختو اقتصادی ستونزو سره چی حتی د یوی مړی ډوډی د پیدا کیدو توان هم نه لری، انسانی جنایت کارانو ته ښه موقع په لاس ورکړیده چی د متضررو کورنیو واړه او نیمچه ځوان اولادونه د دروغینو وعدو په ورکولو سره چی مرسته ورسره کوی او د ښه ژوند د جوړښت د پاره به ورته زمینه برابروی له دوی څخه یا د کمو پیسو په مقابل کی او یا هم په وړیا توګه اخلی او د خپلو ناروا هدفونو د پاره یی د ځان سره وړی.

اوس چی زمونږ ناتوانه دولت څه چی زمونږ ټول ملت د سولی د خبرو لوری ته متوجه دی او د ورځنی ژوندانه نوری ټولی چاری ورنه هیر دی، انسانی قاچاق وړونکوته لا ښه زمینه برابره کړیده چی د هیواد د بیلو بیلوبرخو نه واړه ماشومان او نیمچه ځوانان لکه د ښکار د مرغیو په شان په لاس راوړی ، له سرحدونو نه یی واړوی او د انسانی قاچاق کونکو په لویو موسسو یی و پلوری.

تر کومه ځایه چی تازه معلومات شتون لری هره ورځ په لسګونو څه چی په سلګونو داسی ماشومان چی حتی ټولنیزه میډیا هم وربانډی نه خبریږی په مرموزه توګه نورو هیوادونو ته وړل کیږی او هلته لکه د حیواناتو په څیر پلورل کیږی.

زه د یوه افغان په توګه له ټولو ټولنیزو رسنیو نه، د ټولنی له ټولو غړو نه، په ولسونو کی د وسله والو طالبانو نه ( که انسانی احساس لری) او همدارنګه د دولت له ټولو امنیتی اورګانونو نه ( که دی سوداګری کی برخه نه لری) په کلکه غوښتنه کوم چی د دی ضد انسانی عمل د مخنیوی د پاره له ټولو امکاناتو نه کار وخلی او د دی نه جبیره کیدونکی انسانی زیان مخه ونیسی او خپل ایمانی، وجدانی ، انسانی او اسلامی وظیفه تر سره کړی. په

همدی هیله.پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ